# رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي، وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي كُلِّهِ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطَايَايَ، وَعَمْدِي وَجَهْلِي وَهَزْلِي، وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ». "زما ربه! ماته زما ګناهونه او ناپوهي، په ټولو چارو کې زما اسراف او هغه څه چې ته پرې زما څخه ښه پوهېږې وبښې، یا الله ما ته زما ګناهونه وبښې؛ هغه چې ما په قصد او یا سهوې او خطا سره کړي دي، او دا ټول زما سره دي، یا الله ما ته زما هغه ګناهونه وبښې چې ما پخوا کړي دي او یا یې وروسته کوم، هغه چې ما په ښکاره کړي او هغه چې ما پټ کړي، ته مخکې کوونکی (د خېر د کارونو توفيق ورکوونکی) او ( د خبر له کارونو وروسته کوونکی یې چالره چې وغواړې)او ته پر هر څه قادر یې

له ابو موسی رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په دې دعا سره دعا کوله: «رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي، وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي كُلِّهِ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطَايَايَ، وَعَمْدِي وَجَهْلِي وَهَزْلِي، وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ». "زما ربه! ماته زما ګناهونه او ناپوهي، په ټولو چارو کې زما اسراف او هغه څه چې ته پرې زما څخه ښه پوهېږې وبښې، یا الله ما ته زما ګناهونه وبښې؛ هغه چې ما په قصد او یا سهوې او خطا سره کړي دي، او دا ټول زما سره دي، یا الله ما ته زما هغه ګناهونه وبښې چې ما پخوا کړي دي او یا یې وروسته کوم، هغه چې ما په ښکاره کړي او هغه چې ما پټ کړي، ته مخکې کوونکی (د خېر د کارونو توفيق ورکوونکی) او ( د خبر له کارونو وروسته کوونکی یې چالره چې وغواړې)او ته پر هر څه قادر یې.

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له هر اړخیزه دعاګانو څخه یوه دا هم وه: "رب اغفر لي خطيئتي" وذنبي، "وجهلي" وما وَقَع مِنِّي بدون علم. "ربه، زما ګناه وبخښه" او زما "ناپوهي" او هغه څه چې زما په ناپوه شوي دي. "او زما په ټولو چارو کې زما اسراف" او زما غفلت او له حده تېرېدل. "او هغه څه چې ته پرې زما څخه ښه خبر یې" ته پرې پوه شوی یې یا الله، او زما هېر دی. "اې الله، ماته زما تېروتنې او قصدي ګناهونه وبخښه" او هغه چې په قصدي توګه زما څخه شوي دي، او هغه چې زه پوهېدم چې دا ګناه ده. " زما قصدي ګناهونه او هغه چې په ټوکه کې شوي دي " او هغه چې زما څخه په ټوکو او په دواړو حالتونو کې شوي دي. "وكل ذلك عندي" او دا ټول زما سره دي، ځکه چې ټول یاد شوي ګناهونه او عیبونه یې راونغاړل. "اللهم اغفر لي ما قدمت" یا الله ماته د مخکنیو(ګناهونو

بخښنه وکړې، هغه چې تېر شوي، "وما أخرت" او هغه چې وروسته راڅخه کېږي، چې په راتلونکي کې به راڅي. "وما أسررت" او هغه چې ما پټ کړي" "وما أعلنت" او هغه چې ما ښکاره کړي. "أنت المقدم وأنت المؤخر" " ته مخته کوونکی او ته وروسته کوونکی يې، له خپلو بندګانو څخه چې چالره وغواړې نو په خپل توفيق سره يې مهربان او ستا د خوښې وړ کړنو ته ورمخکې کوې، او چا لره چې وغواړې نو په ذليل کولو سره يې وروسته کوې، نو څوک چې تا وروسته کړی وي هغه لره مخته کوونکی نشته، او څوک دې چې تا مخته کړی وي هغه لره وروسته کوونکی نشته. "وأنت على كل شيء قدير" او ته په هر څه قادر يې، قدرت دې پوره او اراده دې بشپړه ده، هر څه چې وغواړې هغه کولی شې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5483

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee